مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سمیع الدین افغاني

۲۰۱۸/۰۹/۲۵

# موږ تر څو به؟

مودې تیرې شوې کلونه انتظار یو
پـه خیالونو، تصور کې د روزګار یو

د هر یوه او مبتکر پــه تمه ناست یو
لا یې نور هم کار نامو ته امیدوار یو

پدې هیله چې به سوله، امن را شي
په هر لوري به اخته په کار او زیار یو

ځوان کهول به خپل وطن کې اسوده وي
نور به خلاص د بل محنت او د ازار یو

د کوکنار او بنګ د بوټو کر په ځای به
کروندګر به د زعفران، غنم او جوار یو

په نیشو روږدي علاج به هر بیمار وي
ټول په فکر، جوړیدو د خپل دیار یو

لا تر څو به د غفلت په خوب بیده یو؟
غلط شوي د هر چا په تش ګفتار یو

افغاني وطن کې هره ورځ مرګی دی
دي غمجن، غمجن حالاتو نه بیزار یو

----------------------------------

سمیع الدین افغاني
۱۹ – ۸ – ۲۰۱۸
م ۰ کال



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ